## اعلاميه مطبوعاتی

### که تاسو په رښتيا سره له الله سبحانه و تعالی پرته له بل چا څخه اطاعت نه کولی، حالت به مو داسې نه وی!

### (ژباړه)

عمر البشير د سوډان ولسمشر وويل: (د الجزيرې په ادالحديد په ميدان کې د خلکو راټولېدل هر خاين او غلام ته ځواب دی.) هغه زياته کړه: (موږ خاين او استعمارګر ځواک ته غاړه نه ايږدو او هغوی زموږ د غاړه ايښودلو لپاره مبارزه کوي. موږ د خپل دين عزت، افتخاراتو ته ژمن يو او هغه په غنم، ډالر يا يورو نه پلورو.) هغه د سيدي په سيمه کې يوې غونډې ته وويل: (د صحابه وو په وخت کې به خلکو د ونو پاڼې خوړلې.)

موږ د سوډان ولايه حزب التحرير د اسلامي امت د ميليونونو عزتمنو خلکو پر وړاندې د ده خبرو ته حيران يو:

- ايا د خلکو دا لويه ټولګه چې په پلازمېنه او بېلابېلو ښارونو کې له کورونو راوتلي دي، حکومت غواړي چې دوی په لوږه کې امتحان کړي او په دې توګه دوی د څو ساعته نور هم په خپلو ليکو کې د ډوډۍ، سون موادو او پيسو د لاسته راوړلو لپاره ودروي؟ ايا له دې ټولو سره بيا هم دوی خاينين او غلامان نه دي؟
- اصلي خاين هغه څوک دی چې له الله سبحانه وتعالی، پيغمبر صلی الله عليه وسلم او مومنانو سره يې خيانت کړی وي. د دولت خاينين هغه کسان دي چې پر هېواد يې ډېر کاله حکومت کړی او د بماانزل الله خلاف حکم يې کړی دی. هېواد يې د امريکا په امر په دوو برخو سوډان شرقي او شمالي تقسيم کړ او نورې سيمې يې په کوچنيو برخو ووېشلې، څو د لوټمارو لپاره د يوې نړوالې ګټې وسيله وګرځي. خاين هغه دی چې د خپل بادار په امر خلک، حيوانات او د دوی حاصلات له منځه يوسي او تر دې لا بده يې دا چې د دوی حکومتي نظام کفري او استعماري دی او پايله يې يوازې د خلکو د ژوند له منځه وړل دي.
- ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾ [طه: 124]

***ژباړه:*** *او هر څوک چې زما له ذکر څخه مخ واړوي (د اسماني کتابونو له احکامو لرېوالی غوره کړي)، ژوند به يې تنګ، سخت او نيولی وي (نه به پر هغه شي قانع کېږي چې الله سبحانه تعالی يې نصيب ګرځولي او نه به الهي قضا او قدر ته تسليم شي) او د قيامت په ورځ به يې ړوند را پاڅوو.*

- چېرې دي ستاسو وياړونه او عزت؟ کله چې تاسو امريکايانو ته سوالګري کوئ، څو ستاسو رول ومني او په دې توګه مو خپل استازي يو پر بل پسې سپيني ماڼۍ ته استوئ. خو له دې ټولو سره بيا هم امريکا له تاسو نه راضي کېږي او تاسو يو ځل بيا د خپل نظام د ساتلو لپاره له روسيې څخه په ډېرې بې عزتۍ د مرستې غوښتنه کوئ! ايا موږ الله سبحانه وتعال له ياده باسو؟ الله سبحانه وتعال به له تاسو څخه تر هغه راضي نشي، ترڅو چې خپل حکومت، سياست، اقتصاد او د ژوند نظام مو د اسلام پر اساس برابر نه کړئ. پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«مَنِ الْتَمَسَ رِضَا اللَّهِ بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ اللَّهُ مُؤْنَةَ النَّاسِ، وَمَنِ الْتَمَسَ رِضَا النَّاسِ بِسَخَطِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ وَكَّلَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى النَّاسِ»**

***ژباړه:*** *څوک چې د الله سبحانه وتعالی رضا د خلکو په غوضه کولو کې لټوي، د هغه لپاره الله سبحانه وتعالی کافي دی او هر هغه څوک چې د الله سبحانه وتعالی په پرتله د خلکو د رضایت په لټه کې وي، الله سبحانه وتعالی یې خلکو ته پرېږدي.*

سربېره پر دې، چېرې دی هغه دی چې موږ به یې په غنم او ډالر ونه پلورو. دا رژیم یوه ورځ هم په بماانزل الله حکومت نه دی کړی. اسلام یوازې شعار نه دی، څو تاسو عادي مسلمانانو ته فرېب ورکړئ؛ بلکې په اسلام کې د حکومت نظام د نبوت پر منهج خلافت دی. په اسلام کې د حکومت نظام نه جمهوري دی، نه سلطنتي او نه هم کوم بل څه چې خلکو ته ژوند د جنت په څېر جوړ کړي؛ بلکې اسلامي نظام عدالت او الهي رحمت دی. نو، بشر له ځان پرته بل چاته فرېب نشي ورکولی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿**يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَمَا يَخْدَعُونَ إِلَّا أَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ**﴾

[بقره: 9]

***ژباړه:*** *هغوی فکر کوي چې الله سبحانه وتعالی او مومنان تېرباسي؛ په داسې حال کې چې دوی نه پوهېږي او يوازې ځان غولوي.*

حقیقت دا دی چې اصحاب رضی الله تعالی عنهم د ونو پاڼې خوړلي، خو بیا هم له یو بل سره برابر وو. د بېلګې په توګه: د غندق په غزا کې اصحاب رضی الله تعالی عنه په ګېډه پورې یوه ډبره تړلې وه، خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم دوې ډبرې په ګېډه تړلې وې. پوښتنه دا ده چې ایا امت په دې بېړني حالت کې چې تاسو د پیسو د وجهي صندوق په اساس جوړ کړی، سره برابر دی؟ دا د سوالګرۍ دوام او دا ستاسو کاره کېناستل او حکومت کول!!

په پای کې رژیم او د هغه ساتونکو ته وایو: د دغه امت په اړه له الله سبحانه وتعالی څخه ووېرېږئ. هغه وخت چې تاسو دغه هېواد ته بدبختي راوستله او وروسته چې دوی د حقیقت موندلو لپاره له خپلو کورونو څخه را ووتل، ستاسو له اور او مرمیو سره مخ شول او ورپسې مو د غلام لقب هم ورکړ. زر ده چې د الله سبحانه وتعالی په مرسته به د هغه سبحانه وتعالی بنده ګانو ته یو ځل بیا حقیقت راوګرځي، تر دې چې الهي عدالت پر ځمکه وغوړېږي او د نبوت پر منهج راشده خلافت به تاسیس شي. دا په داسې حال کې ده چې هغه ورځې او وخت را رسېدلی دی. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې له ظالمو حکومتونو وروسته به د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسیس شي. راشئ او د خلافت د تاسیس لپاره سره یو ځای شئ.


**ابراهیم عثمان (ابوخلیل)**

**د حزب التحریر-ولایه سوډان ویاند**



**د صدور ګڼه: ایچ ټي ایس ۱۴۴۰/ ۱۷**

**۱۴۴۰هـ.ق، د ربیع الثاني ۱۹مه**

**۲۰۱۸م، د ډسمبر ۲۶مه**


**ژباړن: منصور دریځ**